PROPERTY OF ACKU

توان

دافغان معیوبینو دهراړخیز پروګرام خپرونه

سال دوم شماره اول | حمل ۱۳۷۷ هجری شمسی | مارچ ۱۹۹۸ میلادی

په دې ګڼه کې

- سرلیک
- دمعیوبینو بیارغونه
- پروګرام کمك بازنان واطفال ضرورتمند
- خدمات کاریابی برای معیوبین
- دمعیوبینو په هکله دخلکونظریات
- مصاحبه با غلام رحمان
- قصه بازتوانی شرف الدین
- جواب به نامه ها
- غربت اومعیوبیت

سرلیکنه

نوی کال مومبارک شه. نوی هیلې، نوی پلانونه نوې چانسونه اونوې کامیابۍ مومبارکشه. زما گرانو لوستونکو!

دا دی زه بیاستاسی خدمت ته راغلی یم. تاسوته مې ښې خوږې کیسې راوړي دي. زه توان یم. زه ستاسو معیوبوخویندو اوورونیوهغه توان یم چې تاسې په موقتی توگه دنورو دبی احتیاطی، بی باکی او ناپوهی له کبله له لاسه ورکړی دی. خو ډیرژر به که خدای «ج» کول داخپل توان بیرته په لاس درشی. تاسوته به خپل توان په وړیاتوگه، دخیرات په بڼه او یادکوم چاداحسان او تحفی په توگه په لاس درنه شی، بلکې تاسوبه خپل توان پخپل مټ او پخپل همت سره لاس ته راوړئ.

تاسو درنو معیوبینو ته معلومه ده چې زمونږ ټولنه یوه ډیره وروسته پاتی ټولنه او هیواد مودظالمانو د خود سری او ددښمنانو ددسیسو په کړی کې راگیر دی. ټول جنگونه او ربړونه زمونږ او زمونږ دهیواد والو په برخه دی او زیات شمیر زمونږ ورونه او خویندی ددغو ناخوالو په جال کې نښتی او پښې، سترگې او حواس یې له لاسه ورکړی دی. اودابد مرغه لړی لا اوس هم هماغسې روانه ده. نو په دغو حالاتو کې تاسو گران معیوبین پخپل همت زور واچوئ خپل ځانونه دهغو لوستونو اوتدبیرونو او روزنې په مرسته له کړاو اومایوسی څخه بچ کړئ، چې د CDAP دکارکوونکو له خواتاسوته چمتو کیږی. د پروگرام له امکاناتو څخه اعظمی گټه واخلئ اوله ځانه دټولنې یومنلی شخص جوړ کړئ.

داځلی بیا هم مادرته دنورو هغو معیوبینو د ښه کیدو او بیارغیدو خوږی کیسې راوړې دي چې یو وخت یې دتوان موندلو هیله نه درلوده او دکورپه یوه کونج کې به له نورو گونبې اویوازې ناست وو. خود CDAP د پروگرام دبیلابیلو کارکوونکو اودروزنې دموادوپه عملی کولو سره دغه معیوبین بیرته په خپلو پښو دریدلي دي او دهغوی کورنی له پروگرام اودساحې له کارکوونکو او فزیوتراپستانو اونورو خواخوږو څخه خوښی کوي اوکورودانی ورته وایي. تاسو هم کولای شئ خپلې دبیارغونې کیسې ماته راولیږئ چې نورو لوستونکو او معیوبینوته یې خپرې کړو.

نن ورځ زمونږ ټولنې اوهیواد والو دامنلی ده چې معیوبتیا یوه ټولنیزه او اجتماعی ستونزه اویوه حقوقی مسئله ده. که څوک دمعیوبینو پروا ونه ساتي، دادبشری حقوقو څخه تیری بلل کیږی. هرمعیوب دبل هرچا په شان دتعلیم، کاراو عاید گټلو او په ټولنه کې دبشپړ گډون اومنلو حق لري. او داکارتر بل هرچا دمخه پخپله دمعیوب په لوړ همت او زحمت گاللو پورې اړه لري. معیوب باید هیڅکله نامینده نه شي. کله چې یومعیوب کوم کاردخپل ځان اویاټولنې لپاره سرته ورسوي، نو دکورنۍ او ټولنې غړی ورته متوجه کیږی. شاباس ورته وایي او په هربل کارکې یې ورگډوی.

لندډ داچې په دې نوی کال کې که د CDAP پروگرام لازیات کاراوزیارته چمتو دی، له معیوبینو، دهغوی له کورنیو، دساحی له کارمندانو اودبیارغونې له کمیتو اورضاکارانو او نورو څخه هم دلازیات کوشش اوهمکاری هیله لري څو لازیات شمیر معیوب وطنوال بیا خپل توان اوویسا ترلاسه کړی. ستاسو ټولو دبری په هیله

ستاسوتوان.

دمعیوبینو بیارغونه

حیات الله وحدت

داوړدمهاله او ملی ستراتیژی په لور

دمعیوبیت په هکله دوهم ملی ورکشاپ

دفیزیوتراپی خدمتونو او اورتوپیدی تکنالوژی دپرمختیا اومعیاری کولو په هکله دغورپه ترڅ کې عملی گامونه پورته کړل

په هیواد کې دشل کلنی اوږدی جگړې په نتیجه کې زمونږ دخلکو په سلو کې نژدې څلورتنه د معیوبیت له ستونزو سره لاس او گریوان دي. دمعیوبینو په دې ډله کې له نیمایي زیات له خوځیدلو اوتللو څخه ناتوانه دی اونیم نوریی دبیلوبیلو حسونو ناتوانی نیمگړتیاوې لري.

له جگړې وروسته بلکې دجگړې په اوږدوکې معیوبینو ته پاملرنه او دهغوی بیارغونه دجنگ وهلو ملکونو دبیارا پورته کیدو په لارکې یولوی چیلنج دی. په افغانستان کې چې لا تر اوسه هم دجگړو او وژنو ترخطر لاندې دی، دمعیوبینو دبیارغونې پروگرام چنگی پراختیا، زیات پیاوړ توب او دخلکو د اړتیاؤ پرېنا جوړ شوو اوږدو پلانونو ته ضرورت لري. دهمدې ټکې په پام کې نیولو سره دمعیوبینو هر اړخیزه پروگرام CDAP او داکبر اداری په هیواد کې دتولو هغو موسسو ترمنځ دپلان اوعمل په برنامه کې دخپل منځی پیژندنې، پیروزوینې اولاس ورکونې په تکل دمعیوبیت په اړوند دملی ورکشاپونو سلسله پیل کړه.

دروان میلادی کال دفروری په میاشت کې دورکشاپونو ددې سلسلې دوهم ورکشاپ دپاکستان د پیښور په ښار کې جوړ شو. په دې ورکشاپ کې چې په هیواد کې د «فیزیوتراپی خدمتونه اواورتوپیدی تکنالوژی» ترعنوان لاندې جوړ شوی وله کابل څخه دعامی روغتیا دوزارت داستازو په گډون لسو افغانی او نړیوالو موسسو او دملگرو ملتونو څینی نمایندگانو وندې درلوده. دورکشاپ برخوالو چې زیاتریی داورتوپیدی تکنالوژی اوفیزیوتراپی مسلکی کسان وو، د دریوورځو ژورغورا اوبحث په ترڅ کې په لاندنیو دریوهدفونو باندې کار وکړ:

۱- دفیزیوتراپی او اورتوپیدی خدمتونو په ساحه کې دارونډو موسسو دکاردښې هماهنگی، نورې ودې او دخلکواړتیاوته په وخت دځواب ویلو لپاره په ملی سطحه دیوې اغیزمنې اوپه واقعیتونو ولاړې ستراتیژی دجوړولو لپاره دلارښوونو برابرول.

۲- په دواړو ساحو کې دموجودو امکاناتو اووسایلو په ګوته کول اوپیژندنه اوپه همدې ساحو کې دملی اړتیاؤ اټکل اوپه دې باندې غور کول چې دې اړتیاؤ ته څوک، څنګه اوڅه وخت باید ځواب ووایي.

۳- په هیواد کې دفیزیوتراپی خدمتونو او اورتوپیدی تکنالوژی دمعیاری کولو اومثبتې ودې لپاره دپرسونل دروزنې په منظور دیوه ملی نصاب او تعلیمی پروگرام جوړونه اوپه ملی اونړیوالو سطحه دهغه په رسیمت پیژندنه.

دیوې ملی ستراتیژی دجوړونې لپاره پریکړه وشوه چې داکار به دهغه میکانیزم له لارې ترسره کیږی چې په همدې ورکشاپ کې یې په جوړیدو اودکار په ډول موافقه وشوه. له دې سربیره لارښوونه وشوه چې دا ستراتیژی به دښوونې اوروزنې اودخدمتونو دوراندې کولو په برخو کې لاندینی ټکی په پنسټیزه توګه په نظر کې ساتی.

- **ښوونه او روزنه**

دمسلکی کارکوونکو تجربه اوعلی درجه به په رسمی ډول منل کیږی.

دمسلکی کارکوونکو دروزلو لپاره به نصاب اودرسی پروگرام جوړیږی اوهغه به هم په رسمی ډول منل کیږی.

- دمسلکی کارکوونکو لپاره به لازم معیارونه وټاکل شي چې دهغو له درلودلو وروسته به دوی په رسمی توګه منل کیږی.

● دکارکوونکو ده مسلکی تربیې لپاره به دپورتنیو تکو په نظر کې نیولو سره عملی پروګرام جوړیږی.

دخدمتونو وړاندې کول:

● هڅه به کیږی چې له موقتی اولنډ مهاله پروژو څخه دوامدار پروګرام ته ګام پورته شي، چې په دې توګه دا پروګرام په خلکو کې دخدمت لپاره تل موجود وی.

● پرګرامونه به ټولوسیموته مساوی پاملرنه کوي او هڅه به کوی چې دهیواد په هره برخه کې د فیزیوتراپی او اورتوپیدی خدمتونه خلکوته ورسیږی.

● پروګرامونه به داسې جوړیږی چې ټوله پاملرنه یې هغو خلکوته وی چې دفیزیوتراپی او اورتوپیدی خدمت ته اړتیا ولری.

● په هیواد کې ټول ورته پروګرامونه او پروژې به یوله بل سره هماهنګی لري.

● داسې وسایل به په کار وړل کیږی چې دافغانستان له ژوندانه سره مطابقت ولري.

دورکشاپ دهدفونو په دوهم بند باندې دکار په ترڅ کې په ګوته شوه چې تر ۲۰۰۰ م کال پورې باید ټول برخوال په ګډې همکاری سره دفیزیوتراپی خدمتونو لپاره ۵۰۰ مسلکی پرسونل او دفیزیوتراپی روزنې استادان دخدمت لپاره وړاندې کړي. اوس په هیواد کې ۴۴ تنه فیزیوتراپستان او ۶۰ تنه دفیزیوتراپست مرستیالان دیولسو مؤسسو په چوکاټ کې په خدمت بوخت دي.

داورتوپیدی خدمتونو په هکله تراوسه په هیواد کې دمعیوبینو دورغنیوا رتیاؤ لپاره په ۸ ولایاتو کې ۱۲ اورتوپیدی ورکشاپونه موجود دی چې دضرورت پرېنا به په هغو کې په تدریج سره زیاتوالی او هماهنګی راشی.

دورکشاپ داهدافو په دریم بند چې دملی پیژندل شوي نصاب جوړول و، خورا اغیزمن کارتره سره شو. داورتوپیدی تکنالوژی په برخه کې دسند یګال دمؤسسې له خوا جوړشوی نصاب ۹۰ په سلو کې ومنل شو او دپوره منلو لپاره به دسند یګال موسسه په هغه کې لازم نو نبتونه راوړی.

دفیزیوتراپی دنصاب په هکله په یوه جوړه نصابونو توافق وشو او پردوو نورو باندې به له څه تغییراتو وروسته په راتلونکی ورکشاپ کې توافق کیږی.

دیادونې وړ ده چې دعامی روغتیا وزارت ژمنه ورکړه چې دانصابونه او دهغو په نتیجه کې روزل شوی مسلکی پرسونل به په رسمی ډول منل کیږی.

دورکشاپ یو ډیر غوره ګام دا و چې دفیزیوتراپی او اورتوپیدی خدمتونو په هکله دهماهنګی په تکل دکارعملی میکانیزم جوړشو چې دهغه په وسیله به په اړوندو ساحو کې په هیواد کې ټولې هڅې د وخت دغوښتنو سره سمې سمون مومی. دهماهنګی ددې میکانیزم په مرکز کې به دمعیوبینو هراړخیز پروګرام CDAP اساسی رول ادا ء کوي. ددې میکانیزم په اساس به ټولې اړوندې موسسې په هرو دریو میاشتو کې یوه دکارغونډه کوي، دکار راتلونکی غونډه به د روان میلادی کال دمې دمیاشتې په څلورمه نیټه دکابل په ښار کې جوړیږی.

پروگرام کمك بازنان واطفال ضرورتمند

ناجیه زیوری

درکشورعزیزما افغانستان زنان مسلمان افغان، قبل از جنگ تحمیلی ودر عصر حاضر دربخش تولیدی چی درمناطق روستایی وچی شهری، در پهلوی مسؤولیت خطیر شان به حیث مادر، خانم ویا خواهرورول برازنده، رابازی نموده اند.

زنان باوقار وباهمت افغان نه تنها درروستاها درپهلوی برادران خویش مصروف نگهبانی مواشی ، باغداری وکاردر زمینهای زراعتی بوده اند ،بلکی بعضی ازاین کارها جزء مسؤولیت های خانم هاشمرده می شود.

هکذا خواهران مان درشهردربخش های مختلف زنده گی ، منحیث مسؤولین طبی، استادان ورزیده وکارگران فنی درفابریکه هامصروف خدمت بوده ومی باشند.

مادران درد دیده وزنان افغان درپهلوی پرورش اطفال شان که اینده سازان فردای افغانستان جنگ دیده اند، دربخش صنایع دستی که نماینده گی ازفرهنگ وکلتور وطن عزیز مان رامی کند، مصروف بوده اند. تولیدات دستان با هنرشان همیشه زیب تن علاقمندان آن گردیده ومقام والای رادرجهان حاصل نموده است.

خواهران مان همیشه ازمزد این تولیدات درپرورش وتغذیه فامیلهای خویش استفاده نموده اند.

چنانچه به همگان هویداست، ناشی ازجنگ ها ومشکلات که تاکنون هم جریان دارد به تعداد زنان بیوه، مسؤول وسرپرست فامیلها ازطبقه اناث درسرتاسر کشورافزوده شده است.

با درك این مشکلات وبه خاطر تعاون وکمك به طبقه، فعال ومظلوم زن که ازهمه بیشتردرین حالات متأثر گردیده اند، اخیراً پروگرام همه جانبه، معیوبین افغان دفترخدمات پروژوی ملل متحد خدمت به زنان ضرورتمند رانیز به اساس ضرورت وخواست جامعه ودر راه نیل به امحاء فقر وتأمین صلح در کشور، به اساس پلان مطروحه پروگرام انکشافی ملل متحد، از جمله، اهداف اساسی خویش قرارداده است و(درپهلوی خدمت به معیوبین) بادرنظرداشت این هدف بخش کمك به زنان واطفال ضرورتمند را شامل پروگرام خویش نموده است.

جهت پیاده نمودن پروگرام به شکل موثریزای زنان واطفال ضرورتمند، مسؤولین این پروگرام کارسروی را در دو ولایات دور دست افغانستان ،فراه ویدخشان انجام داده وباطبقات مختلف جامعه ویا زنان ضرورتمند مصاحبه های صورت گرفت. نتیجتاً به اساس درخواست وضرورت زنان، دفتر CDAP پروژه های حرفوی وتعلیمی راکه ازطرف دو موسسه غیر دولتی افغانی موسسه اعمار مجدد افغانستان وشورای بازسازی حوزه، جنوب غرب به خاطر تطبیق پروگرام پیشنهاد گردیده بود ،منظور نمود.

در ختم پروژه ۴۸ زن افغان درشهرفیض آباد ولایت بدخشان ازهنر پتو بافی وبرك بافی مستفید می گردند.ودرولایت فراه ۷۸ زن ازپروگرام قالین بافی وپرورش مرغهای فارمی واستفاده از ماشین چوچه کشی نیز مستفید می گردند.

تمام این زنان بیوه وضرورتمند بوده که توسط عواید آن می توانند فامیلهای خودرا به شکل متداوم کمك نمایند.

خدمات کاریابی برای معیوبین

سلطان محمد جویان

بخش کاریابی پروژه، همه جانبه، معیوبین افغان وظیفه دارد تا به معیوبین درقسمت یافتن وظیفه کمک رساند تاآنهاازطریق یافتن کار در بازارشغل آزاد، کارنمایند ویابا شروع شغل شخصی ازنظر اقتصادی متکی بخود شده وازباردوش شدن فامیل وجامعه رهایی یافته مانند سایرافراد جامعه زنده گی آبرومندانه راپیش ببرند.

کارمندان بخش کاریابی که عبارت ازکارشناسان کاریابی وکارمندان بازتوانی سطح متوسط میباشند خدمات کاریابی رابرای معیوبین مهیامی سازند.

کارمندان متذکره درقدم اول، بعد ازاینکه معیوبین سروی گردیدند، با آنعده از معیوبین که ضرورت به کار دارند در تماس شده ایشان را ازنزدیك دیدن نموده نیازمندی، توانایی ودلچسپی هرمعیوب رابررسی نموده و در زمینه مشوره ومعلومات لازم میدهند.

بعد از اینکه معیوب حرفه، خویش راانتخاب نمود فعالیت های ذیل انجام داده میشود.

۱- آنعده ازمعیوبینیکه مهارت ضروری کار راداشته باشند مستقیماً درکاریا مزد شامل ساخته می شوند. اگرعلاقه به شغل خودی ویا به قرضه ضرورت داشته باشند ازطریق پروژه برای شان قرضه اعطا می گردد. البته قرضه برای آنعده ازمعیوبین داده میشود که سن شان بین ۱۶- ۵۵ سال باشد وهمچنان اشخاص صادق وزحمت کش بوده دوباره قرضه راداده بتوانند.

۲- آنعده ازمعیوبینکه حرفه، نداشته باشند ازطریق دادن آموزش حرفوی بازتوانی می شوند. آنها مهارت های حرفوی راآموخته بعداً برای دریافت کاریا مزد ویا بدست آوردن عاید از آن استفاده می نمایند. برای برآورده شدن این مقصد سه طریقه وجود دارد. طریقه، اول این است که شخص معیوب درمحل سکونت شان منحیث شاگرد مطابق توانایی جسمی وعلاقمندی اش به کارنزد استادکار مانند نجار، خیاط، بایسکل ساز، مستری وغیره شانده می شود. وبعد از بدست آوردن مهارت کار از طرف پروژه CDAP جهت خریداری سامان ومواد کاربرای آغاز شغل پول طورقرضه داده می شود اوسط مقدار پولیکه طورقرضه داده می شود ۷۵ دالر امریکایی می باشد. البته برای توزیع قرضه برای مستحقین درهرپروژه حوزوی CDAP کمیته، قرضه ایجاد شده واین کمیته اعطا قرضه برای معیوبین مستحق راتصویب می نماید. کمیته، قرضه صلاحیت دارد تانظر به ضرورت شغل اندازه پول قرضه را تعیین وتثبیت نماید بشرطیکه اوسط مجموعی پول قرضه از۷۵ دالر تجاوز نکند. مطابق بودجه، دست داشته هرپروژه می تواند درهرسال برای ۱۲۰ نفر قرضه اعطا نماید.

طریقه، دوم اینست که معیوبین مهارت کار را از طریق کورس های حرفوی که از طرف پروژه درجامعه ومحل شان



دایرمیگرددفرا می گیرند. چنین کورسهای حرفوی از طرف پروژهء CDAP پیشبرده شده وکار شناسان کاریابی مسؤولیت آنرا بدوش دارند.در هرکورس حرفوی ده نفرمعیوب شامل می شوند.استاد کورس از ورزیده ترین کارمندان ماهرکه وسایل کار برای آموزش راداشته باشند انتخاب میگردد وهمچنان جای برای تدریس کورس ازطرف محل طوررایگان به اختیار پروژه گذاشته می شود.

البته درمعرفی معیوبین به این کورس ها رضاکاران جامعه نقش ارزندهء را ایفاء می نمایند.

طریقه سوم اینست که بعضی مؤسسات غیردولتی دیگر نیزکورس های حرفوی را برای اشخاص دیگر درقریه ها دایر می نمایند. این موسسات که شرایط معینه شانرا داشته باشند درکورسها معیوبین را بدون تبعیض شامل می نمایند.

بعد ازاینکه معیوبین مهارت های لازمه رابه طرق فوق یاد گرفتند ازطریق کارمندان بازتوانی سطح متوسط طور انفرادی واز طریق کارشناسان کاریابی طوردسته جمعی به آنها درقسمت چگونگی تهیه پلان شغل کمك ویاری رسانده می شود.

بعد از اینکه معیوبین راجع به شغل مربوط واندازه عاید که ازآن بدست خواهند آورد معلومات رابدست آوردند درصورتیکه به قرضه ضرورت داشته باشند برای شان پول قرضه جهت خریداری سامان ومواد مربوط شغل شان داده میشود.

خریداری سامان مربوط شغل به همراهی کارمندان بازتوانی سطح متوسط ویارضاکاران جامعه صورت میگیرد.

ازشروع پروژه که درسال ۱۹۹۵ آغاز یافته تا حال درحدود ۳۱۵۸ نفر ازخدمات کاریابی مستفید شده اند. درسال ۱۹۹۷ به تعداد ۱۳۸۵ نفرازخدمات کاریابی مستفید گردیده اند که ازجمله ۷۷۳ نفر مرد و ۶۱۲ نفرزن می باشند. طوریکه ۴۵ فیصد زنان ازخدمات کاریابی بهره مند شده اند که این ارقام نظربه سال های ۱۹۹۵ و ۱۹۹۶ پنجاه فیصد زیادترمی باشد.

درآماده ساختن خدمات کاریابی برای معیوبین، خود جامعه ازطریق معرفی رضا کاران سهم فعال را انجام داده است. امیداواریم که درآینده نزدیك خود جامعه بتواند مسؤولیت خدمات کاریابی رابه عهده گرفته ویا تشکیل کمیته های بازتوانی جامعه وانجمن های معیوبین این مسؤولیت رابه وجه احسن به پیش ببرد تامعیوبین مؤفق به دریافت کسب وکارشده ومانند سایر افراد جامعه عاید بدست آورده و طوردایمی ازباردوش بودن رهایی یابند واز زنده گی خوش ومسرتبار برخوردار باشند

ساحه	تخار			مزار			وردك			هرات			مجموعه		
	مرد	زن	مجموعه	مرد	زن	مجموعه	مرد	زن	مجموعه	مرد	زن	مجموعه	مرد	زن	مجموعه
شاگردی	۶۹	۴۱	۱۱۰	۸۰	۵۱	۱۳۱	۳۲	۱۱	۴۳	۰	۰	۰	۱۸۱	۱۷۲	۳۵۷
کورسهای حرفوی	۱۶	۱۱۸	۱۳۴	۱۲۸	۸۲	۲۱۰	۸۶	۵۹	۱۴۵	۱۰	۸۲	۹۳	۲۴۰	۳۴۲	۵۸۲
کورسهای حرفوی دیگر	۰	۰	۰	۹	۱	۱۰	۷	۰	۷	۴	۰	۴	۲۰	۱	۲۱
کارگماری مسقیم	۲۹	۱	۳۰	۰	۰	۰	۶	۱	۷	۲	۰	۲	۳۷	۲	۳۹
قرضه دوران	۶۲	۵۷	۱۱۹	۴۴	۳۱	۷۵	۹۰	۲۶	۱۱۶	۹۹	۵۰	۱۴۹	۲۹	۱۶۴	۴۵۹
مجموعه	۱۷۶	۲۱۷	۳۹۳	۲۶۱	۱۶۵	۴۲۶	۲۲۱	۹۷	۳۱۸	۱۱۵	۱۳۳	۲۴۸	۷۷۳	۶۱۲	۱۳۸۵

داکتر غنی امین

په دې هکله غواړم دستر ګو لیدلی حال دتوان دجریدې محترمولوستونکوته بیان کړم: میرزاخان یو غریب اوبیوزله شخص و، دپسرلی او اوړی په موسم کې به یې دهقانی کوله اوژمی به یې دخپل اولس څخه بهر داولاد دنفقې دلاس ته راوړلوپه خاطر مزدوری کوله، دعمر په تیریدوسره خدای پاک ورته دوه زامن ورکړل. لومړنی زوی چې کله اووه کلن شونوپه مکتب کې یې شامل کړ، په ډیر مشقت سره به یې ورته قلم اوکتابچې برابرولی ترڅو زوی یې په آینده کې د آرامه ژوند څښتن شي. اما وروسته له ۸ کالو مکتب ویلوڅخه دخلقیانو دکودتا په نتیجه کې دا مکتب وران شواو دمیرزاخان اکا زوی دمکتب سره مخه نښه وکړه. څرنګه چې پلار یې غریبکارشخص و، نو زوی یې هم دغریبی مخه ونیوله.

څوکاله وروسته میرزاخان اکا په دې وتوانید چې د زوی دکوژدې تصمیم ونیسی اودالهی تقدیر اتوله مخې دزوی نصیب یې دخپل مامالهلورسره و. دکوژدې دخوشحالي ورځی تیرې شوې بیا پلار او زوی په غریبی (مزدوری) سر شول ترڅو د ولواره پیسې برابرې کړي. او په دې هم وتوانید چې د زوی دواده سرشته وکړي. واده وشو، خو ډیرې محدودې دخوشحالی ورځی وې چې په میرزاخان آکا تیرې شوی ځکه چې په واده سره زیات پور وړي شواوکومه زراعتی ځمکه یې چې لرله هغه هم ګرو شوه نور نوڅه نه و ورته پاتی. ددې سره سره میرزاخان اکا له تربرونو سره تر بګنې کوله اوله سیالانو سره سیالي. نوی ناوکی هم په ډیره خوشحالی سره دخوانبی اوخسر خدمت کولو. ددوی دکور ترڅنګ دیوه کلیوال کورو چې په هغه کې یوه معیوب ماشوم ژوند کاوه .دا ماشوم چې په کوچنیوالی کې د پولیو په مریضی مبتلا شوی ویوه پښه اویولاس یې کاملاً بی حرکته و. داوریدو له مخې کله ناکله به دې نوی ناوکی په دې معیوب ماشوم پوري خندل اومسخري به یې پری کولې یابه یې حق ناحق ځورولو. دوه کاله وروسته میرزاخان اکا ته خدای پاک لمسی ورکړ، دایه ګانو د ماشوم دتولد څخه وروسته په اکا زیری وکړ او دزیری انګازې په ټول کلی کې خپرې شوې څرنګه چې دجهاد وخت وپه هرکورکې وسله وه. هرڅوک به راتلل اول به یې دکورپه دروازه کې یو شاجورمرمی فیرکړې اوبیا به یې دماشوم بابا اونیا ته مبارکي ویله. بابا به په ډیره خوشحالی سره دمبارکی ځواب ورکولو اما دنیا دځواب آواز تیټ اومایوسوونکی و. په هر حال دوه درې ورځی لاتیرې نه وې چې دکلي له ماشومانو څخه مې واوریدل چې دمیرزاخان اکا دلمسي لاس لکه دپیشو پنجه داسې دی. کله چې ماته دا حقیقت معلوم شو چې رښتیا هم دنومورې ماشوم دیوه لاس ګوتې نشته صرف د کوچنی دورغوې په وروستی برخه کې په یوه اندازه پنځه نوکان موجود دی. دا پېښه خلکوته یوه ډرامه جوړه شوه. په هرکورکې ددې ماشوم قیصی زمزمه کیدې اورنګارنګ تبصرې به پرې کیدې چابه ویل چې دهماغه معیوب ماشوم آزار وچې داسې زوی یې په نصیب شو، چابه ویل چې دغرور او مسخرو انجام همداسې وي، چابه ویل چې دخدای «ج» قهر پرې نازل شویدی دا یې یوه معجزه ورته ونښوده او توبې به یې ایستلی، چابه ویل چې دشپرو ګوتواوکړو پښو مواوریدلي و خو دداسې لاس مونه وو اوریدلی چې کټ مټ دپیشو د پنجې په شان وي. دکلیوالو بالخصوص دزنانه و خوپه دې بی ځایه خبرو هیڅ مصرف نه کیده اما د دوی تبصرو به دماشوم مور اونیا ځورولې. دماشوم مورله یوې خوا په خپل معیوب زوی شرمیدله اوله بلې خوابه دخپل خوشحاله ژوند دخرابیدو په چرت کې وه. پلار اوبابا به هم دماشوم په ژوندځوریدل او هم یې د آینده په فکرکې وو، وخت ناوخت به یې له ځینو ډاکترانو سره دماشوم دلاس په هکله مشورې کولې اما منفي ځواب به یې ترې اوریده. دا ماشوم تقریباً دوه نیم کلن وچې دافغان معیوبینو هرارخیزه پروګرام په دې ساحه کې فعالیت شروع کړ. کله چې دپروګرام ساحوی کارمند دې کلي ته ورغی، دخلکو سره یې ددې پروګرام دمعرفی په هکله خبرې پیل کړې. لنډه داچې دپروګرام دمعرفی په پای کې دکلی سپینږیرو په ډیر اخلاص سره دوه کسه مشران موظف کړل چې دساحوی

کارمند سره هغو کورونو ته ورشی چې معیوب افراد په کې موجود وو ددې کسانو له جملې څخه یو دهمدې معیوب ماشوم بابا و میرزاخان آکا دټولو معیوبینو دلیدلو څخه وروسته ساحوی کارمند خپل کورته بوت ترڅو خپل معیوب لمسی ورته وښیي. دماشوم دلیدو سره سم یې داپورته داستان اوتبصرې ورته بیان کړې. دساحوی کارمند سره له قلم اودسروې له ورقو پرته بل څه نه وموجود اونه یې څه کولای شوای. اما میرزاخان اکا ته یې داسې تسلیت ورکړ چې دانه الهی قهراوغضب دی ،نه کومه معجزه ده اونه دمسخرو اوملنډونتیجه ده دایوه سلسله عوامل دي چې دهغې په نتیجه کې کیدای شي یوتعداد ماشومان معیوب تولدشي چې یوله هغې څخه دخپلوانو تر منځ واده کول دي. په دې خبره دماشوم دبابا تسلیت وشو ځکه چې دې خبرې حقیقت درلود اوکارمند د دوې له اړیکو څخه هیڅ آګاهی نه درلوده .اوهم یې دماشوم دراتلونکی ژوند په هکله اطمینان ورکړ. څرنګه چې دساحوی کارمند داتیرداستان په ذهن کې ونومیرزاخان اکا اونورو ناستوکسانو ته یې دده دګاوندی دمعیوب ماشوم دمعیوبیت په عامل رنا واچوله او ورته ویې ویل چې دایوډول مرض دی چې دفلج په نوم یادیږی. دا داثرکارنه دی اوکیدای شي د ډاکترانود غلطی پیچکاری دتطبیق په نتیجه کې هم منځ ته راشی. ځکه چې دخلکوله تبصرو همداسی معلومیده چې په دې ماشوم اثر شوی و. هغوی به ویل پلاریې ددې په ځای چې تعویض ورته ورکړي ډاکتر ته یې یوور، ډاکتر دنورې دوا ترڅنګ پیچکاری ورکړی چې نتیجه یې داسې شوه.

څرنګه چې زمور په ټولنه کې داسې تبصرې او روایات ډیر زیات رواج لري، ډیر خلک چې کله په قهر شي نووایي چې خدای «ج» لیدلی چې په دې مصیبت یې مبتلا کړي دی امانه داسې ویل عظیمه ګناه ده .دخدای «ج» هیڅ خلقت بی له حکمته نه دی. هغه ذات په هرڅه عالم دی.

---

* * *

غلام رحمان قصه اندوهگین که چگونه چشمان خویشرا درراه خدمت به هموطنان ونجات زنده گی آنان ازدستداد ،گفت: مناطق کارمن ولسوالی گرشك ولایت هلمند ،ساحات لشکرگاه، میدان هوایی قندهار ودیگر مناطق بوده که به کمك سگ های تربیه شده مین های باروتی T-6 ضد تانك راکشف وخنثی میساختیم. آخرین محل کارمن زابل بود .ساحه کار ماراعبدالله کلی می گفتند. ماتقریباً چهارگروپ هریك به مصافه ٥٠ متر کار می کردیم. این منطقه قبلاً پوسته سلام راکتی بود. همان روز دوست من بنام محمد داود نیامد. شخص دیگری بنام غلام نبی کار میکرد. ساحه قبلاً پاك شده بود .اینها صرف سفیده کاری میکردند تابه مردم اطمینان دهند که منطقه از وجود مین ها پاك شده که حتی موتر نیزرفت وآمد کرده بود. غلام نبی کار بیلچه میکرد ومن کچ می انداختم که ناگهان مین انفجار کرد .یك چشم غلام نبی کاملاً برآمد، چشم دیگرش بینایی راازدست داد وپنجه دست اش کج گردید .خودمن نیزنابینا گردیدم.

س : چی وقت به شفاخانه انتقال شدید وچگونه معالجه صورت گرفت؟

ج : امبولانس مین پاکی مارابه شفاخانه قلات انتقال داد .ازساعت ۹ صبح الی ٦ شام بیهوش بودیم هنگام انتقال باتکان طیاره به هوش آمدیم .بعداً به پشاور انتقال گردیدیم که درشفاخانه فوجی تحت معالجه وتداوی بودیم مدت ٤٣ روز درین شفاخانه ماندیم وسپس به پندی رفتیم .غلام نبی راکاملاً جواب دادند ومراپنج ماه بعد خواستند که بعداً رخت بستم وچرخ آمدیم.

س : آیا بعد ازمعیوبیت اززنده گی مایوس هستید؟

ج :برای من سه نکته اهمیت اساسی را دارد :یکی رضای خداوند(ج) دوم خدمت خاك وسوم نفقه عیال. من ازدوکتوران خواستم حقیقت رابدانم وگفتم هیچگونه مایوسی رخ نخواهد داد اگر بدانم که روشنی چشمانم برنمی آید. دوست ام غلام

مصاحبه باغلام رحمان

باشنده ولایت لوگر

جمیله امان

غلام رحمان ۳۵ سال عمرداشته مشکل بینایی دارد. موصوف درمؤسسات مختلف ایفای وظیفه نموده، دارای صفاتیست که درانسان های انگشت شمارسراغ میتوان کرد. آخرین وظیفه اش بامؤسسه (MDC) بحیث مین پاك درقسمت های مختلف کشوربوده که برای جلو گیری ازمرگ ومعیوبیت هموطنان خویش ایفای خدمت کرده است. مابخانه موصوف درنوشهرولسوالی چرخ رفتیم وخواستیم با ایشان صحبتی داشته باشیم.هنگام دخول به خانه ازما پذیرایی گرم نموده خود با اعصاچوب جلوتر رفته مارا به مهامانخانه رهنمایی نموده مهمان نوازی کردند.نخست ازایشان پرسیدیم که چگونه معیوب گردیدند، سرگذشت خویشرا برای ما قصه کنند؟

نبی را هم من در آن حالت تسلیت میدادم که مرا پنجماه بعد خواستند.

س: آیامعیوبیت تاثیری بالای زنده گی شخصی وفامیلی شماگذاشته است؟

ج: قبل ازحادثه ۳ پسر ودودختر داشتم اکنون یك دختردیگر نیز دارم. مناسبات من وخانم من تغییر نکرده او هنوز مهربانتر گردیده است. دخترکلانم ۱٤ ساله وپسر کلانم ۱۱ ساله است.

س: چگونه شامل پروگرام CDAP شدید؟

ج: ازطرف محمدزمان سروی صورت گرفت ، قبل ازشمولیت در پروگرام هرجاییکه میرفتم می افتیدم پایم به سنگ می خورد زیاد مشکل داشتم بعد ازترینگ MOBILITY حتی برف های بام را پاك میکنم قبلاً صرف مسجد میرفتم آن هم بابسیارمشکلات. سروجان شویی مشکل بزرگی بود که فامیل مرا کمك میکرد. اکنون حتی کابل رفت وآمد میکنم. ترینگ MOBILITY سه ماه دوام کرد.

س: در باره، روش اجتماع چی احساس دارید؟

ج: مردم بطورمثال میگویند که کوراست یاکورآمد. خودمی شنوم به اولادهایم میگویم شما چیزی نگویید کوری درراه خدمت به بشریت وبخصوص هموطنان افتخار بزرگی است که خداوند نصیب من ساخته است.اکنون باچنین حالات عادت کرده ام این چنین حادثاتی درزنده گی هر انسان اتفاق افتیده میتواند.

س: چی پروگرام های بعدی دارید؟

ج: با پول MDC که برایم داده شده ،یك باغ رابه گروی گرفته میخواهم خودم ازآن وارسی کنم.اگرخانه بنشینم مشکل است .توقع دارم بریل BRAILLE بیاموزم کمی سردردی داشتم ازطریق آمرپروژه CDAP باشفاخانه در تماس شدم آنها مشکل مرا احساس کردند درقسمت شناخت پیسه خواهان همکاری هستم. بادوکانداری نیز علاقه فراوان دارم. از خدمات پروژه وبخش های مختلف آن چون فزیوتراپی، ورکشاپ اورتوپیدی، کاریابی، قرضه همه وهمه اطلاع دارم همچنان تصمیم دارم انجمن نابینایان رادرولسوالی چرخ تشکیل دهم .من درپنج وقت نماز به پروژه CDAP دعا میکنم. آرزو مندم تادرآینده به اطفال نابینا بریل تدریس نمایم. صحبت خویشرا درهمین جاپایان بخشیدیم ولی غرور وحس اعتماد به خود غلام رحمان درواقعیت قابل تقدیر است که تاچی حد اعتماد به خود داشته ومتکی به خود است. وی میتواند سرمشق خوبی برای هموطنان معیوب دیگرباشد تا ا زگوشه، انزوا وتنهایی برآمده ،زنده گی رابا اعتماد به خود وامیدبه اینده، درخشان برخویش سهلتر سازند.

قصه، بازتوانی شرف الدین

عبدالوهاب وجدی

روزی جهت ازدیاد معلومات بخش ریسورس سنتر به قریه شکیبان ولسوالی زنده جان رفته بودم . دروسط سرك داخل قریه شکیبان طفل معیوبی که همراه پدرش به مسجد میرفت توجه ام رابخود جلب نمود وخواستم در باره معیوبیت طفلك چیزی اززبان پدرش بشنوم. بعد از احوال پرسی خود را برایشان معرفی نمودم اونیزخود رامعرفی نمودوگفت که اسم من کریم میباشد وطفل راکه شما هم اکنون مشاهده مینمایید ، پسرم شرف ا لدین جان میباشد . طوری که ازسخنان عبدالکریم خان معلوم میشد،آشنایی قبلی با پروژه همه جانبه معیوبین افغان داشت وبعد ازآن خواستم علت وچگونگی معیوبیت شرف الدین جان را ازپدرش بشنوم. عبدالکریم پدرشرف الدین معیوب چنین آغاز نمود :

شرف الدین ازآوان تولد مشکل حرکی داشت . ازناحیه پای چپ دچارمشکل وسؤ شکل بودوماچندین بار نزد دوکتوران مجرب مراجعه نمودیم، آنها برایش ادویه لازم توصیه نمودند، ولی کدام اثری بجای نگذاشت .چندین بار نزد شیخ ها برای دعا خوانی بردیم که آنهم نتیجه مثمری نداشت. پسرم پنج ساله شد وهنوزهم مشکل راه رفتن داشت ومن ومادرش ازسرنوشت آینده او خیلی ها رنج میبردیم وجز دعا وعرض ونیاز بدرگاه ایزد توانا دیگرچاره، نداشتیم.تا اینکه روزی(بتاریخ ۱۹۹٦- ٤-۱۵)دروازه خانه ما به صدا درآمد وقتی بیرون شدم دیدم که ملا امام مسجد باچند تن ازریش سفیدان محل ورییس شورای محل همرای یك جوان به اسم عبدالقادر که خود راکارمند سطح متوسط پروژه همه جانبه معیوبین افغان معرفی نمود برخوردم وآنهارابداخل خانه دعوت نمودم درداخل خانه بعد از تلاوت آیات روح بخش الهی ملا امام مسجد سرسخن رابازنموده ، فرمود که برادر عبدالقدیر ازبخش پروژه CDAP میباشد ومیخواهد که راجع به چگونگی معیوبیت طفل تان چیزی بداند. بعداً عبدالقدیر جان اهداف پروژه رابرایم تشریح نموده وفرمود که انشاالله به فضل خداوند «ج» کمکی که از دست ما بیاید از پسرتان دریغ نخواهیم کرد. بنده قسمی که دربالا تذکردادم ازچگونگی معیوبیت طفل خویش برایش معلومات دادم واو نیز وعده همکاری را برایم داد وگفت که باردیگر ازشما احوال میگیریم .چون من چندین بارنزد دوکتوران مجرب مراجعه نموده بودم حرف های عبدالقدیر جان برایم امیدوار کننده نبود. تااینکه روز دیگر تاریخ ۱۹۹٦- ٤ -۱۹ بازهم عبدالقدیر

جان آمده وچند فورمه رابرای پسرم خانه پری نمود وبرایش دوسیه انداخت . بعداً همرای خودم صحبت نمود کتابچه های رهنمایی پروگرام صحت جهانی رابرایم داد وبعضی تمرینات رابرایم آموخت وگفت: که این تمرین هارا همه رزه بالای شرف الدین عملی نمایم ومرا مربی خانواده گی اوتعیین نمود. بنده نیز تمرینات راهمانطور که درکتابچه رهنما نوشته شده و عبدالقدیر جان گفته بود ، روزمره اجرا می نمودم وبالاخره مشاهده نمودم که کم کم حرکت درپای پسرم پیدا شد.

روزدیگر همراه برادر دیگر که خود رافزیوتراپست می نامید آمده وتمرینات دیگری او برایم توصیه نمود وخواست که شرف الدین رابه مرکز فزیوتراپی بیاورم وقتیکه به مرکز فیزیوتراپی پسرم رابردم پای پسرم رادرگچ گرفته که این عمل چندین بار تکرارگردید. وبعداً مرا به شفاخانه ICRC معرفی نمودند. وآنها پای پسرم رادیده وبنام کلیپر یك نوع وسیله کمکی برایش ساختند ومانیز کمافی السابق تمرینات که ازطرف فیزیوتراپست وکارکنان ساحوی سطح متوسط داده شده بود بالایش اجرا می نمودیم تا اینکه پسر مااستاده شده وبعد ازمدت زمانی آهسته آهسته به راه رفتن آغاز نمود وفعلاً به فضل ومرحمت خداوند لایزال پسر ما آن شرف الدین که همیشه در کنج خانه غلتیده بود ورنج می برد نیست مانند سایر اطفال راه میرود بازی میکند وتمام فعالیت های که یك طفل سالم می نماید اونیزقادر به انجام آن میباشد. فعلاً مایعنی من و مادرش هیچگونه تشویشی راجع به آینده پسر خود نداریم واوفعلاً به مسجد میرود وسی پاره می خواند ونهایت خوشحال است چاق گردیده وشوخی میکند.ماهمیشه تمام کارکنان پروژه راکه به ماخدمت بزرگ نموده اند دعا میکنیم واز خدوند «ج» برایشان عمر درازوموفقیت های بیشتردرامورات زنده گی وکمك به معیوبین خواهانیم. حالا شرف الدین جان هفت ساله میباشد وامسال بخیر اورابه مکتب شامل می نماییم که خیلی آرزوی مکتب رادارد وپسر شوخ ذکی وسالم میباشد وقسمی که خودش میگوید میخواهد در آینده داکترشود ووظیفه طبابت رابسیارخوش داردما بازهم اظهارسپاس وقدردانی عمیق اززحمات پرسونل پروژه همه جانبه معیوبین افغان که در راه تحقق برنامه پروژه خدمت به معیوبین میباشد مینماییم خداوند همه تان راموفق ساخته وطن عزیز مان را آرام نماید.

این بود فشرده ازبازتوانی طفل معیوب که تحت کوشش برادرعبدالقدیر کارمند سطح متوسط این پروژه بوده است.

جواب به نامه ها

برادران محترم ابوبکر صدیقی ومحمد نعیم مسؤول بخش تعلیمات اختصاصی IERP حوزه هرات.

نامهء پرمحتوای شما برای مارسید ازنظریات نیك تان ابرازسپاس مینماییم.انتقادات وپیشنهادات تان حتماً درنظرگرفته خواهد شد از مطلب ارسالی تان استفاده خواهیم کرد. ازشما توقع داریم تامطالبی دررابطه به فعالیتهای عملی این بخش ونتایج ثمر بخش آن دررابطه بامعیوبین، فامیلهای شان وجامعه درحوزه هرات ارسال دارید وتوان راتوان هرچه بیشتر بخشید.

محترم ورور عمراخان دابرار دموسسې څخه :

ستاسې لیکونه راورسیدل اوله همکاری څخه مومننه. ستاسی له مطالبو مو استفاده کړې اوکوو یې .مور ستاسې قلمی رابطه ستایو اوستاسو دګټورو مطالب رالیږلوته سترګې په لاریو.

برادرمحترم جمشیدجان ازمزارشریف:

مطالب ارسالی شما رسید که یکی آن نوشته همشیره محترم قدسیه کریم صدری است.ما درموارد مختلف ازآن استفاده خواهیم کرد

برادر محترم عبدالوهاب وجدی ازحوزه هرات:

مطالب ارسالی شمارادریافتیم .یك مطلب شما رادرهمین شماره نشرنمودیم وازمطالب دیگر تان نیزاستفاده خواهیم کرد. به امید همکاری های همیشگی تان .

محترم منګل احمدی، دوردګوله ولایت څخه :

ستاسې ښکلی شعرونه راورسیدل او په تیرو ګنیوکې نشرشول ستاسې دلازیاتی همکاری په هیله.

محترم قیام الدین خان، دوردگو څخه :

ستاسې مطالب او اشعار راورسیدل. ستاسې رالیږلی مطلب موږ په تیروګنوکې خپور کړ. ستاسې دلازیاتی همکاری په هیله.

برادر محترم فهیمی صاحب ازولایت تخار:

شعرارسالی شمارادریافتیم ازآن در موقع مناسب استفاده خواهیم کرد. به امید همکاری های بیشترتان.

محترم لوستونکی سید رحمان، دوردگو له ولایت څخه:

ستاسی مطلب راورسید اوپه راتلونکی کې به ترې ګټه واخلو. له همکاری مومننه. ستاسی بریالیتوب غواړو.

محترم ورور استاد امیر خان، دوردگوله ولایت څخه:

ستاسې رالیږلی مطلب راورسید، په راتلوونکی کې به ترې استفاده وکړو. له همکاری نه مویوه دنیا مننه.

محترم ورور باقی بریال:

ستاسې ښکلې شعرونه را ورسیدل، مورږ به په مناسب وخت کې ترې استفاده وکړو. زمورږ غوښتنه داده، که چیرې زحمت نه وی خپل شعرونه دمعیوبو وطنوالو له سلیقی سره برابر ولیکئ نوستاسې احسان به وی.

ښاغلي

عبدالمتین

د بدن یې ښکلی غړي چې بایللي
د اسلام او د وطن په مینه تللي
دوی سوچه مسلمان او افغانان دی
په رشتیایې د قران احکام منلي
نه معیوب او نه معذور وو دغه خلک
دا غازیان دي نوم نښان یې دی ګټلی
دالله مدد مدام ورسره مل دی
دښمنان یې په نیمګړی تن شړلی
غلامئ او بی ننګی منلی نشي
په زانګو کې ورته مور همدا ویلی
احترام یې په هر چا باندې لازم دی
«متین» وایی توریالي دی دا ښاغلی

غربت او معیوبیت ۲۰۰۶ - ۱۹۹۸ دملګرو ملتونو له خوا دغربت له منځه وړلو لسیزه

ژباړه : ستاره

دوګړو اوملتونو دغربت یانیستی اودمعیوبیت ترمنځ رابطه څرګنده ده.ډیرو څېړونه دمعیوبیت عوامل دوراثت په پرتله له غربت سره تړلی وی اوپه لاندی توګو منځ ته راځی.

* نیمګړی خواړه

* ناپاکی اوبه

دښوونی او روزنی نشتوالی ، په خاص ډول دښځوله پاره .

- دروغتیا دښښتیزو (اساسی) خدمتونو ته لاس نه رسیدل.

- له زیږون څخه مخکی او ترهغه وروسته دموروغتیا ته لږه پاملرنه .

- دچاپیریال ککړتیا.

- جنګ اوشخړی

- د دارو درملو زیان رسونکی اغیزی.

- دموثر ترانسپورتی سیستم نشتوالی چې نتیجه یی ترافیکی پیښی دی .

- داقتصادی ستونزو له کبله دهغو وسایلو دلاس ته راوړلو توان نه لرل چې دډیرو ستونزوله منځه وړلولپاره موجودی دی.

- دکارکوونکوبی ځواکی اوبی وسی چې نتیجه یی په فابریکو ، کانو نو او کارځایونوکی دکاردخطرناکو شرایطو منځ ته راتلل دی.

غربت دمعویبت منځ ته راتلل ، شدت او تجارب لاهم زیاتوی. معیوب اونیستمنو وګړی لاسی سامان ، بښوونی او روزنی اوکار (وظیفو) ته کم رسیږی چې ددغو په مرسته هغوی کولای شی چې په خپل ژوند کی دانتخابولو زیاتر چانس ،ځواک او آزادی ولری . ټول معیوب وګړی نیستمن او ټول غریب اونیستمن وګړی معیوب نه دی خوبیاهم دمعیوبو وګړو ګڼ شمیر غریب اوبی وسه کسان دی.

دشتمنو اونیستمنو ترمنځ خلاء په ټوله نړۍ کی مخ په زیاتیدوده لاکن څرنګه چې د ۱۹۹۵ کال دټولنیز انکشاف په هکله نړیوال کنونشن وښودله ، غربت ، بی کاری او محرومیت په باب بحث او دغو ستونزو دحل لاری لټول شتمنو او نامعیوبو ،کارپوهانو ، له خوا ترسره کیږی.

دغربت ګړی:

په نړۍ کې ۸۱۱ ، ۲۸۷ ، ۲٤ وګړی دغربت ژوند تیروی:

دملګرو ملتونو پرمختیایی پروګرام ددی لپاره چې وښیی غربت په څومره چټکۍ سره زیاتیږی دغربت ګړی، اختراع کړی ده. دهغو وګړو شمیر چې په بشپړ غربت کې ژوند کوی په هرکال کی ۲۵ ملیونه زیاتیږی. دامحاسبه دملګرو ملتونو اونړیوال بانک دتعریف په اساس شوی ده. ددی تعریف له مخی هغه کسان چې کلنی عاید یی له ۳۷۰ ډالر وزیات نه دی (کابو « ۱ » ، ډالر دورځی) په بشپړه توګه غریب شمیرل کیږی. داګړی په یوه دقیقه کې تقریباً ٤۷ نوی کسان دنیستمنو په شمیره کی ورزیاتوی.

دغربت دکمولو له پاره کړنلاری:

۱- دغربت په اړه بحثونوکی دمعیوبوو ګړوبشپړ ګډون.

۲- داستخدام له لاری دمعیوبوو ګړو اقتصادی ګډون.

۳- دزیرمو (منابعو) له سره ویشل.

٤- دغربت اونیستمنی په ضد لاروچارو منځ ته راوړلوکی دمعیوبینو دانجمنونوبشړه ونډه اخستل .

۵- دمعیوبینودانجمنونو ملاتړاودهغو په غربت قابو موندل .

٦- د دولت اوحکومت لپاره نوی نقش او رول تاکل.

۷ دمرستو تګلاره باید دتقویه کولو پربناوی نه دخیرات غوښتلو اوخیرات ورکولو په اساس.

آگـــاهـــی

کمپاین وسیع واکسیناسیون

*** واکسین به کی تطبیق گردد.**

درهردورکمپاین واکسیناسیون به تمام اطفا یکه سن شان کمتر ازپنج سال باشـد، باید قطرات واکسین داده شود تا ازفلج شدن شان جلوگیری بعمل آید.

*** کمپاین وسیع واکسیناسیون چه وقت شروع میشود؟**

*** دورهء اول ازتاریخ ۱۳ الی۱۵ مـاه ثور سـال جـاری دورهء دوم ازتاریخ ۱۷ الی ۱۹ ماه جوزا سال جاری.**

*** شما چگونه میتوانید درین کمپاین کمك کنید؟**

*** ۱ - با تأمـــین صلـح وآرامش درجـــریـان دوره های واکسیناسیون.**

۲ - درانتـقال واکسـین ومؤظفـین کمـپاین ازیـك جای بجای دیگر.

۳ - پیـدا نمودن مـراکـز واکسـین ورهنمـایی کـردن همسایگان ومردم قریه به این مراکز

لطفاً بخاطرداشته باشید که:

*** واکسیناسیون بالطف خداوند متعال ازمرگ ومعلولیت اطفال ناشی ازامـراض قابل وقایـه باواکسین جلوگـیری مینماید.**

تنها باکـمك وهمکاری شما اینکاربزرگ حـیاتی مؤفـقانه انجام شده میتواند.

PROPERTY OF ACKU

خپروونکی

دافغان معیوبینو هراړخیز پروګرام (CDAP)

د لیکنې د بورډ تر نظر لاندې.

پته: د ملګرو ملتونو له خوا د افغان معیوبینو هراړخیز پروګرام.

ګل مـهـر لین C17 پـسـت بـکـس ۷٤۰

یونیورسټی ټاون، پېښور.

په افغانستان کې زموږ پته:

بلخ:

پروژه همه جانبهء معیوبین افغان/ کمیته سویدن دروازهء بلخ، نزدیک کوچه تمن شـهـر مـزار شریف تیلفون ۲۷۷٦

تخار:

پروژه همه جانبه معیوبین افغان/ کمیته سویدن سرک اول، متصل شفاخانه صحت عـامـه شـهـر جـدیـد تـالقـان

وردک:

د افـغـان مـعـیـوبینو هراړخیـز پروګـرام/ دسویدن کـمـیـتهد سید آبـاد دولـسـوالی مـــــــرکـــــــز

قندهار:

د افـغـان مـعـیـوبینو هراړخیـز پروګرام/ دګارډینز دفـتـر مـیـرویس نیکه شفاخانهء قـنـدهـار شـهـــــــار

هرات:

پروژهء همـه جانبهء مـعـیـوبیـن افـغـان/ دفـتـر هـمـاهنگیـهـای بشـری، چهارراهی امیریت، جادهء بادمرغان، تیلفون ۳۱۷۸